

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او تــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې

د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه

هفته‌نامه آبادی

ګڼـه : ۲۱ | مسلسل نمبر : ۱۱۱

چهارشنبه، د ربیع الاول ۳مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د افغانســـتان د پراختیـایي تګلارې (ملي ســتراتیـژۍ) تر منظورۍ وروسته د هغې تطبیقي چارې پیل شوې



۲ صفحه

## د منرالونو د ملي پالیســـۍ مسوده تایید شوه



۲ مه صفحه

## کابل ښـــار ته له پنجشیر سیند څخه د اوبو د انتقال پـــه اړه له یو خصوصي شرکت سره ناسته ترسره شوه



۳مه صفحه



## سرلیکنه

پراختیایي تګلاره هغه مهم سند دی، چې د یو حکومت له لوري د خپلو کورنیو او بهرنیو چارو د روښـانه کولو په موخـه د اوږدمهال لپاره جوړېږي. د دې سـند پر مټ حکومت خپل مالي او اقتصادي منابع، بشري قوه او له نورو هېوادونو سره دوه اړخیـزې او څو اړخیزې اړیکې داسـې تنظیموي، څو خپلو ټاکلو موخو ته د یو منظم، همغږي او مؤثر پلان له مخې په ښه ډول ورسېږي. دا مهم سـند د حکومت لپاره یو واضح لیـد او ماموریت ټاکي، چې په رڼا کې یې اوږدمهاله اهداف مشـخص کېږي. اسلامي امارت د دې موخو ترلاسـه کولو له پاره خپله پنځه کلنـه پراختیایي تګلاره جوړه او د اقتصادي کمیسیون تر تایید وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحـب حفظه الله تعالـی له لوري منظوره شـوه. د افغانسـتان پراختیایي تګلارې لـه پلان کولو څخه د اسلامي امارت موخه داده چې په هېواد کې شته ستونزو ته پـای ورکـړي، اسلامي شرعي قانـون متداوم، د مؤثریت، روښتیا او حساب ورکولو اصل تأمین، له سیمې او نړۍ سره مؤثرې او نېکـې اړیکې پراخې، دوامداره سرتـاسري امنیت ټینـګ، د کار له پـاره زمینه برابره، اقتصادي وده رامنځته، اسلامي حاکمیت، دیني او ملي ارزښـتونو او ارضي تمامیت وسـاتي، د ملي او طبیعي سرچینو د مدیریت مؤثریت لوړ کړي، د بنسټیزو خدمتونو عرضه ښـه، صنعت، سوداګرۍ او خصوصي سکټور ته وده ورکړي، د زېربناوو پراختیا او سیمه‌ییز اتصال پراخ، ټولنیز خوندیتوب او د ژوند چاپېریال ښه کړي.

اوس د دې سـند عملیاتي پړاو دی، په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ غونډه جوړه شـوې وه چې پکې د کابینې یو شمېر وزیرانو هم برخه اخیسته وه. غونډې ته د وینا پرمهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ووېل چې د یـادې تګلارې د عملیاتي برخـې لپاره د برنامو جوړولو، د پروژو اولویت بنـدۍ، قیمت ټاکنه او مؤثره څارنـه د ټولو وزارتونـو او امارتي بنسـټونو ګډ کار او مسـؤولیت دی، چې دوامداري خپلمنځي همکارۍ ته اړتیا لري او پوره دقت او پاملرنه باید ورته وشي.

لـه دې څخه جوته شـوه چې اسلامي امـارت د دې تګلارې په بشـپړ ډول عملي کېدو ته ژمن دی. د دې تګلارې په عملي کولو سره بـه اسلامي امارت پر دې وتوانېږي چې د راتلونکي له پاره خپل پلانونه چمتو کړي او له مخې یې د خپلو شـته عایداتي منابعو پر مټ هغه سکټورونه چې پراختیا او پرمختګ ته یې اړتیا ده پر خپلو پښو ودروي. د دې تګلارې بله ګټه دا ده چې دا تګلاره به له امارتي ادارو سره مرستـه وکړي، څو یادې اداري خپلې پالیسۍ، پروګرامونه او پروژې د اسلامي امارت له ټولیزو موخو سره په همغږۍ کې په داسـې ډول چمتو کړي چې د یو بل بشـپړونکې وي او همدارنګه به یاده تګلاره د منابعو او عامه پانګونو اغېزناک مدیریت ته لاره هواره کړي. په دې ډول به افغانستان په راتلونکو پنځو کلونو کې په زیاتړو برخو کې پر ځان بسیا او اقتصاد به یې لا غښتلی او د پرمختګ پړاو ته داخل شي.

# د افغانســـتان د پراختيـــايي تګلارې (ملي ســـتراتيـــژۍ) تر منظورۍ وروسته د هغې تطبيقي چارې پيل شوې



د افغانســـتان پراختيايي تګلارې چـــې د اسلامي امارت د اميرالمؤمنيـــن حفظه‌اللـــه تعالی له لوري منظوره شـــوې، د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په جوړه شـــوې غونډه کـــې چې د کابينې محترمو غړو هم پکې ګډون درلود د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې مياشـــتې په څلورمه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د تطبيقي پړاو چارې پیل شوې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، د افغانستان اسلامي امارت پراختيايي تګلاره شرعـــي احکامو، علمي معيارونـــو او د هېواد عيني شرايطـــو ته په پام له خپلـــو داخلي ظرفيتونو څخه په ګټې اخيســـتنې تدوين شوې ده، چې د هېواد د ملي پراختيا لپاره اســـاسي موخې او لومړيتوبونه په ګوتـــه کوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، د تېرو څلورو کلونو په ترڅ کې د افغانستان اسلامـــي امارت ټولو وزارتونـــو او ادارو په خپل وار د نظام د بنسټ د پياوړتيا او د هېواد د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په برخه کې خپله ونډه ادا کړې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخونـــد وويل، د هېـــواد محدودې سرچينـــې او ورځ تر بلې زياتېدونکې اړتياوې ايجابـــوي، چې ټول امارتي وزارتونه او اداري اړوند پاليسۍ، پروګرامونه او پروژې د دې سند په رڼا کې ترتيب او عملي کړي، څو د ملي منابعو په تخصيص او مصرف کې د لا زياتې همغـــږۍ او لومړيتوب ورکولو لامل وګرځي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې د يادې تګلارې د تطبيق لپاره د برنامو جوړولو، د پروژو اولويت بنـــدۍ، قيمت ټاکنه او مؤثره څارنه د ټولو وزارتونو او امارتي بنسټونو ګډ کار او مسووليت دی، چې دوامدارې خپلمنځې همکارۍ ته اړتيا لري او پوره دقت او پاملرنه بايد ورته وشي.

د غونډې په پای کې د اسلامي امارت وياند ذبيح‌الله مجاهد د افغانستان پراختيايي تګلارې په اړه د رسنيو پوښتنو ته هم ځوابونه وويل. د يادونې وړ ده چې د افغانســـتان پراختيايي تګلاره هغه جامع، واحد او اوږدمهاله سند دی چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد د بنسټيزو موخو ترلاسه کولو په پار چمتو شـــوی او ټولې امارتي منابع په يو واحد مسير رهبري کوي. د دغه مهم سند موخې د اسلامي احکامو پر بنسټ ښه حکومتولي، د سراسري امنيت ټينګښت او د ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه، کارموندنه او اقتصادي وده دي. د دې سند په تطبيق سره به روڼتيا او حســـاب ورکول او پر نظـــام به د خلکو او نړيوالې ټولنې باور زيات شي؛ ښوونې او روزنې، روغتيا او نورو بنسټيزو خدمتونو ته به ښه لاسرسی پيدا شي.

# د منرالونو د ملي پاليسۍ مسوده تاييد شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ســـنبلې مياشتې په دوهمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د کانونو او



پټروليم وزارت له لوري د منرالونو د ملي پاليسۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه.

د اقتصـــادي کمېســـيون له لوري تـــر هراړخيزې ارزونې وروسته د منرالونو د ملي پاليسۍ مسوده تاييد شوه. د دې پاليســـۍ موخې پـــه معيـــاري توګه د کانونـــو تفحص، اکتشـــاف او ګټه اخيســـتنه؛ د کورنيو او بهرنيو پانګوالو جـــذب او د کان کيندنې نـــوې ټکنالـــوژۍ او تجهيزاتو واردول؛ د چاپېريال ساتنې او د کان کيندونکو د روغتيا او خونديتـــوب ډاډمنول؛ په هېواد کې دننـــه د کاني موادو پروســـس ته زمينه برابـــرول او د کانونو ســـکتور لپاره د متخصصو او تخنيکـــي بشري سرچينو روزل او د ظرفيت لوړول دي.

د اقتصادي کمېسيون په دې غونډه کې له شبرغان څخه تر دښت الوان پورې د ۵۰۰ کيلو ولټ انتقالي مزي



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي

غځولو پروژې د پاتې چارو د بشپړولو قرارداد په حجم کې د تعدیل راوستلو په اړه هم بحث وشو. له مفصل بحث وروسته په یاد قرارداد کې لازم تعدیل راوستل شو. همدا راز دې غونډې ته د کمال خان بند د دویم فاز (قلعه افضل بند) د امکان سنجۍ د لومړنیو مطالعاتو او د هېواد په بندرونو کې د اړتیاوو معلوماتو په موخه ټاکل شوو کمېټو هم خپل راپورونه وړاندې کړل.

یادې پرېکړې د نهایي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

## کابل ښار ته له پنجشیر سیند څخه د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره ناسته ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۳۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د کتوازي گروپ خصوصي شرکت له مسوولینو سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د کابل ښار د اوبو د کمښت ستونزې ته متوجې دی او په جدي او اساسي ډول یې د حل لپاره هڅې کوي. د کتوازي گروپ شرکت مسوولینو وویل، چمتو دي چې د ټولو معیارونو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره له پنجشیر سیند څخه کابل ښار ته د اوبو د انتقال پروژه کې پانگونه وکړي. هغوی زیاته کړه، د یادې پروژې په اړه به د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د معلوماتو او اسنادو له ترلاسه کولو وروسته خپل تخنیکي ټیمونه ساحې ته ولېږي او د دوه اوونیو په جریان کې به د یادې پروژې سروې او ډیزاین بشپړ کړي.



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوبو او انرژۍ وزارت مسوولینو ته دنده وسپارله، څو د دې پروژې په اړه موجود معلومات او اسناد د کتوازي گروپ شرکت مسوولینو ته په واک کې ورکړي او د پروژې د تخنیکي، مالي او تطبیقي اړخونو په اړه ورسره بحثونه وکړي.

محترم ملا صاحب د یاد شرکت مسوولینو ته له خپل لوري د همکارۍ ډاډ ورکړ او د اوبو او انرژۍ وزارت او یاد شرکت له استازو یې وغوښتل چې په دوو اوونیو کې خپل راپور له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي.

## د سوداگریزو بانکونو له لوري د ټولگټو پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیک شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د مالیې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ د سوداگریزو بانکونو له لوري د ټولگټو پروژو د تمویل میکانیزم لاسلیک شو.



دغه سند د اقتصادي کمېسیون د کاري طرزالعمل د دوهمې مادې د پنځمې فقرې پر اساس جوړ شوی، څو په قانوني ډول د سوداگریزو بانکونو د ونډې اخیستو له لارې د ټولگټو پروژو تمویل ته زمینه برابره شي. د دغه سند موخې په ټولگټو پروژو کې د ونډې اخیستو او د دې پروژو د تمویل لپاره د اسانتیاوو رامنځته کول؛ د هېواد په دننه کې د سوداگریزو بانکونو لپاره د پانگونې فرصتونو برابرول او د سوداگریزو بانکونو د عوایدو د زیاتوالي لپاره د زمینې برابرول دي.

د دغه میکانیزم له مخې به مالیه وزارت له اړوندو سکتوري ادارو څخه ټولگټې پروژې غواړي او دغه وزارت به یې مالي موډلونه ترتیبوي. د افغانستان بانک به د ټولگټو پروژو په تمویل او تطبیق کې سوداگریز بانکونه ونډې اخیستو ته هڅوي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخــه کــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی


# د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اســد مياشــتې په ۲۹مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجندا سره سم له زر مينځونکو شرکتونو څخه د ثابتې ماليې په توګه زرو اخيســـتلو او همداراز د کرومايټ ډبرو د کوچني او لوی مقياس کانونو قراردادي شرکتونو څخه د ونډې پر بنسټ د رويالیټۍ د ورکړې موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول.

له بحث وروسته د رياست‌الوزراء عالي مقام ته نظر وړکړل شو چې له زر مينځونکو شرکتونو څخه دې په مياشتنۍ ډول په هر هکتار ځمکــه د کتېګورۍ له مخې، پنځه، لس او پنځلس ګرامه د لوړ معيـــار سره زر د ثابتې ماليې په توګه واخيســـتل شي. د سرو زرو دغه ثابته ماليه به د کانونو او پټروليـــم وزارت له لوري لــــه زر مينځونکو شرکتونو څخه د رويالیټۍ اخيســـتلو پرمهال د ماليې وزارت د اســـتازي په شتون کې اخيستل کېږي.



همدارنګه پــه دې غونډه کې له مفصل بحث وروســـته د رياست‌الوزراء عالي مقام ته نظر وړکړل شو، چې د کوچني مقياس کرومايټ ډبرو د استخراج ټول مصارف د شرکتونو پر غاړه دي او استخراج شــوو او ناپروسس شوو کرومايټو کـــې د وزارت ونــډه ۴۵ او د شرکت ونډه ۵۵ ســلنه ده. د کوچني مقياس هغه شرکتونه چې د پروسس فابريکه ولري او استخراج شوي کرومايټ پروسس کړي، په دې صورت کې بيا د وزارت ونډه ۴۰ او د شرکت ونډه ۶۰ سلنه ده.
همداراز د لــوی مقياس کرومايټ ډبرو د اســتخراج ټول مصـــارف د شرکتونــو پر غاړه دي او اســتخراج شــوو او ناپروسس شوو کرومايټو کې د وزارت ونډه ۳۵ او د شرکت ونــډه ۶۵ ســلنه ده. د لوی مقياس هغــه شرکتونه چې د پروســس فابريکه ولري او اســتخراج شــوي کرومايټ پروسس کړي، په دې صورت کې بيا د وزارت ونډه ۳۰ او د شرکت ونډه ۷۰ سلنه ده.
د کرومايــټ ډبرو د کوچني او لوی مقيــاس کانونو د هغو قراردادي شرکتونو په حق کــې هم دا پرېکړه د تطبيق وړ ده، چــې لــه وړاندې څخه يــې کروماېټ اســتخراج او اوسمهال په ساحه کې پراته دي.
يادې پرېکړې د نهايي تصميم په موخه د اميرالمؤمنين شيخ صاحب دفتر ته واستول شوې.



# د منرالونو ملي پاليسي: ارزښــت، اړتيـــا او موخــې

زاهد خان

## سريزه

افغانســـتان د طبيعي سرچينو له مخې ډېــر بډای هېواد دی. په نړۍ کې د هغــو هېوادونو له ډلې څخه دی چې ډېره شـــتمني يې تر ځمکې لاندې خښه پاتې شوې او د اشـــغالونو او ناراميو له امله اســـتخراج شـــوې نه ده. په افغانســـتان کې تر ځمکې لاندې د قيمتي او نيمه قيمتي منرالونو کانونه شته، چې استخراج يې د هېواد اقتصادي وضعيت کې لوی بدلون راوستلی شي.

په اوس وخت کې د افغانســـتان د اقتصــادي ودې له پاره د منرالي مــوادو زېرمو اســـتخراج تــه ډېره اړتيـــا ده. د افغانســـتان اسلامي امارت د دې له پـــاره چې د منرالي موادوکاني زېرمو د اســـتخراج او پروســـس کارونه منظم شي، نـــو د دې له پاره د کانونو او پټروليم وزارت له لوري د منرالونو ملي پاليسۍ مسوده جوړه او د اقتصادي کمېسيون له لوري تاييد شوه.

## د افغانستان د کاني زېرمو ارزښت

افغانســـتان د طبيعي سرچينو له پلوه شتمن هېواد دی، چې اســـتخراج يې کولی شي د هېواد اقتصـــادي وضعيت بدل کړي. دا په هېواد کې د پانګونې له پاره هم ښــه فرصتونه برابـــروي. په تېر کې د دغو کاني زېرمو اســـتخراج او پرې پانګونې ته هېڅ پاملرنه نه ده شوې. د تېرو څلورو لسيزو

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه
هفته نامه آبادی



اشغالونو د هېواد د کاني زېرمو د استخراج مخه نیولې وه، خو اوس چې په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت دی، نو د دغو زېرمو د استخراج او پروسس کې د پانګونې ښه فرصت رامنځته شوی دی.

د شوېو سروېو ګانو پر بنسټ، د افغانستان د منرالي زېرمو ارزښت سلګونو میلیونو ډالرو پورې رسېږي. په دې منرالونو کې فلزي او غیر فلزي منرالونه شامل دي. اوسپنه، مس، لیتیم، یورانیم، نفت، سرب، سره زر، ډېرو سکاره، د سمنټو خام مواد، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې او نور د افغانستان مهم منرالونه دي.

معلومات ښیي چې په افغانستان کې شاوخوا ۵۰۰ ډوله منرالونه په ۲۰۰۰ سیمو کې کشف او پېژندل شوي دي. دا منرالي مواد په ټول هېواد کې خواره واره پراته دي، خو ځیني ولایتونه د ځینو منرالي موادو لرلو له امله مشهور دي. لکه د سرو زرو زېرمې په بدخشان، تخار، پنجشېر، غزنی، کندهار، هرات، میدان وردګو او یو شمېر نورو ولایتونو کې کشف شوي دي. دغه راز، په بامیان، بدخشان، پکتیکا، پروان، زابل، کونړ، لوګر، ارزګان او ځینو ولایتونو کې ډېره اوسپنه موندل کېږي، چې تر ټولو لوی کان په بامیانو کې د حاجي ګګ د اوسپنې کان دی چې د اوسپنې زېرمه یې ۱.۸ میلیارده ټنو ته رسېږي. په لوګر کې بیا د مسو لویې زېرمې شته او هرات کې هم لوی کانونه کشف شوي دي.

## د پالیسۍ اړتیا

په تېرو لسیزو کې د مرکزي ادارو د کمزورۍ او خپلسریو له امله په هېواد کې د کاني زېرمو استخراج تر ډېره په غیر قانوني ډول ترسره کېده. سیمه ییزو زورواکو به په غیر معیاري ډول کانونه استخراج او قاچاق کول او عواید به تر ډېره شخصي جیبونو ته تلل. په قراردادونو کې فساد هم د هېواد د منرالي زېرمو چور او تالان ته زمینه برابره کړې وه.

د دې له پاره چې د هېواد د دغې ملي شتمنۍ او کانونو سکتور استخراج او ګټه اخیستنه معیاري شي، عواید ملي خزانې ته لاړ شي، د خپلسریو او فساد مخه ونیول شي، نو اسلامي امارت لازمه وګڼله، چې د هېواد په کچه داسې ملي پالیسي جوړه کړي، چې له مخې یې د هېواد د ملي شتمنۍ د ضایع او قاچاق کېدو مخه ونیول شي او په نویو او عصري وسایلو د کانونو کیندنه ترسره شي.

په ټولیزه توګه د کانونو سکتور د تنظیم، پراختیا او کنټرول له پاره د هر اړخیز لاربنود موجودیت مهم و. په همدې موخه د منرالونو ملي پالیسي جوړول او پلي کول د کانونو سکتور له پاره مهمه وګڼل شوه. په یاده پالیسۍ کې د منرالونو د اکتشاف، استخراج، پروسس او صادراتو په اړه واضح لارښوونې راغلي دي.

## د پالیسۍ موخې

د منرالونو ملي پالیسۍ موخې په لاندې ډول دي.

۱- په معیاري توګه د کانونو تفحص، اکتشاف او ګټه اخیستنه؛

۲- د داخلي او بهرنیو پانګوالو جذب او د کان کیندنې نوې ټکنالوژۍ او تجهیزاتو واردول؛

۳- د ژوند چاپېریال ساتنې او د کان کیندونکو د روغتیا او خوندیتوب ډاډمنول؛

۴- په هېواد دننه د کاني موادو پروسس ته زمینه برابرول؛

۵- د کانونو سکتور له پاره د متخصص او تخنیکي بشري سرچینو روزل او د دوی ظرفیت لوړول.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د مالیې وزارت، د اقتصاد وزارت، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د اوبو او برېښنا وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت، د چاپېریال ساتنې ملي اداره، د ستندرډ ملي اداره او د صنعت او کانونو خونه د دې پالیسۍ په تطبیق کې له کانونو او پټرولیم وزارت سره همکاري کوي.

## د پالیسۍ تطبیق او څارنه

د منرالونو ملي پالیسۍ مسوده د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید شوه. د دې په رڼا کې به اړوند قانوني او نظارتي ګامونه او نورې حمایوي پالیسۍ چمتو کېږي. د کانونو او پټرولیم وزارت به وخت په وخت د جوړې شوې پالیسۍ څارنه او ارزونه د یو منظم پلان له مخې کوي.

## پایله

د منرالونو ملي پالیسۍ مسوده د افغانستان د طبیعي شتمنیو د معیاري استخراج، پروسس او مدیریت له پاره یو مهم او هر اړخیز ګام دی. په تېرو لسیزو کې د اشغال، خپلسریو او فساد له امله د هېواد له دغې ملي شتمنۍ څخه په سمه او مناسبه توګه ګټه نه وه اخیستل شوې. د افغانستان اسلامي امارت د کانونو سکتور د تنظیم، پراختیا او قانوني کولو له پاره دغه لوی ګام پورته کړ او یو ارزښتناک سند یې جوړ کړ، څو له دې لارې به هېواد کې اقتصادي وده منظمه او ګړندۍ شي او ملي عوایدو کچه ورسره زیاته شي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۸,۴۵؋ | ۶۸,۵۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستاني کلداري | ۲۳۲؋ | ۲۳۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۷۱؋ | ۰,۷۲؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۹,۵۴؋ | ۷۹,۵۹؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۵؋ | ۰,۸۵؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۸۱؋ | ۷۸۱؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۲,۱۰؋ | ۹۲,۱۷؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۲۴؋ | ۱۸,۲۶؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۶۴؋ | ۱۸,۶۵؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۵۷؋ | ۹,۵۸؋ |